# د هغه هدایت او علم بېلګه چې زه پرې الله رالېږلي یم، د هغه ډېر باران په څېر دی چې پر ځمکه وشي

له ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: « د هغه هدایت او علم بېلګه چې زه پرې الله رالېږلي یم، د هغه ډېر باران په څېر دی چې پر ځمکه وشي، نو ځینې برخې یې حاصل خېزه وي چې اوبه جذبوي، نو ډېرې بوټي او واښه پرې راشنه شي او ځینې برخې یې وچې او سختې وي چې اوبه ساتي، نو الله تعالی پرې خلکو ته ګټه ورسوي، ترې وڅښي، کروندې پرې اوبه کړي او کښت وکړي او ځینې برخې بیا دومره بې ګټې وې چې نه اوبه ساتي او نه بوټي رازرغونوي، نو دا د هغه چا مثال دی چې د الله په دین کې پوهه لري او هغه څه ورته ګټه رسوي چې زه پرې الله رالیږلی یم، نو خپله زده کړه کوي او نورو ته یې هم ښیي، او د هغه چا مثال چې پدې لارښوونې سره سر نه پورته کوي او د الله هغه هدایت نه قبلوي چې زه پرې رالیږل شوی یم».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د هغه چا حالت په حېرانتیا سره مثال ورکړ چې له هغه هدایت څخه ګټه اخلي چې هغه پرې رالیږل شوی او انسان خپل منزل ته رسوي، او د شرعي علم مثال یې د هغې ځمکې سره ورکړ چې ډېر باران پرې وشي، نو په درې ډوله شي: لومړی ډول: پاکه او ښه ځمکه ده چې د باران اوبه مني، ډېرې تازه او وچې میوې رازرغونوي او خلک ترې ګټه اخلي. دویم ډول: داسې ځمکه ده چې اوبه ساتي خو بوټي پرې نه زرغونیږي، اوبه ساتي تر څو یې خلک وڅښي او خپل څاروی او کروندې پرې خړوب کړي. دریم ډول: هواره او خوبه ځمکه ده چې نه اوبه ساتي او نه پرې کښت زرغونیږي، نو نه ترې خپله ګټه پورته کوي او نه خلک. نو همدا د هغو خلکو حال دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه علم او هدایت په اړه یې اوریدلي وي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې رالیږل شوی دی. نو لومړی: هغه عالم دی چې د الله په دین پوه وي، په خپل علم عمل کوي او نورو ته یې ورزده کوي؛ نو دی د هغې ګټورې ځمکې په څېر دی چې اوبه څښي، هم ځانته ګټه رسوي او هم په حاصل ورکولو سره نورو ته ګټه رسوي. دویم: هغه څوک دی چې علم یې زده کړی وي خو پوهه او استنباط ترې نه لري؛ نو دی د پوهې راټولونکی او وخت پرې لګوونکی دی، خو د علم په نوافلو یې عمل نه دی کړی او یا یې د هغه څه په اړه پوهه نده ترلاسه کړې چې راټول کړي یې دي، نو دی د بل لپاره وسیله ده او د هغې ځمکې په څېر دی چې اوبه پکې پاتې کیږي او خلک ترې ګټه اخلي. دریېم: هغه څوک دی چې علم اوري، خو نه یې حفظوي، نه پرې عمل کوي او نه یې نورو ته رسوي؛ نو دی د هغې خوبه ځمکې په څېر دی چې بوټي پکې نه وي او نه اوبه مني او یا یې په نورو خرابوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4233

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee